وبعد عرض شود ،پاسپورتي ازشهرجلال آباد به طورقانوني اخذ کردم .وقتي به کابل رفتم سفارت جمهوري اسلامي ایران طبق دستورداراده ائتلافي اظهارداشت که این پاسپورت وتمامي پاسپورت هاییکه ازولایات صادرشده است، فاقد اعتبار بوده وباید وزارت داخله آنهاراتائید نمایدکه این کاربه منزله گرفتن پاسپورت دیگري میباشد. چونکه همه مقررات پاسپورت جدیدرا طي میکند ،من چنان کردم وبه مشکلات زیادي مواجه شدم .وقتي پس ازاتمام کارخود درکابل، به ولایت هرات رفتم وبه شعبه پاسپورت اسلام قلعه مراجعه نمودم، آن دفتر نه پاسپورت جلال آبادونه هم تائید کابل راقبول داشت وباید این پاسپورت راقومنداني ولایت هرات تائید میکرد ودراین شهرچنان وضع گرفتن دفتر پاسپورت خراب است که بیشتر ازده لك پول رشوه بکاردارد .

مردمانیکه باپاسپورت وویزاي قانوني میخواستند عازم ایران شوند همه سرگردان بودندکه باپاسپورت هاي خود چه کنند وکجابروند وباده لك رشوه راچگونه بپردازند . من مشکل راعرض نمودم امید مارا رهنمایي نمائید .

خدانگهدارشما

محمدعظیم مهاجر

زمونږ پته

دکوټه بلوچستان اوسیدونکي ښاغلي سراج الدین !

دسلامونواومعلوماتوغوښتلو یوه پاڼه لیك دي راورسید هغه مو په پوره دقت وکوت له شهادت ورځپاڼي سره ستاسي خپله علاقه اوټزدي والي ښئي خوداخباراولورو کتابونو اوعلمي اثارومطالعه دبي کاره اووزګارو خلکوکارنه دي ددي قیمتي آثاروومطالعي له پاره له عیشیاتوڅخه تیرېدل اوورته ځان وقفول غواړي نو که غواړي چي شهادت اخبارترلاسه کړي په دي پته به مراجعه وکړي .

ننګرهار ولایت - جلال آباد - چکنوري

دشهادت اخباردفتر .

دهند جماعت اسلامي تحریک

زیارن عاطفي

دهند جماعت اسلامي تحریک په هندوستان کي دعلم پالو ، ښوونکو اوپوهومسلمانانو څخه متشکل ترټولو پیاوړي اومنظم اسلامي تنظیم دي چي دتیرو پنځوسو کلونو راهسي د احیاء اسلام په عملي فعالیت بوخت دي سربیره پردي په مذهبي ښتو او فسادونو په دوران کي جماعت اسلامي یواځني تنظیم و اودي چي دقومي ، ژبني اومذهبي تعصباتو پرته ئي دهرمظلوم مرسته کړي . اوپه اعماري کارونو اود روغي جوړي فضا دراملغ ته کولو په اوږندیي خپل تاریخ هڅي کړي دهند جماعت اسلامي فعالیتونه دهندوستاني قانون په اساس ترسره کیږي د تیرو(٥٠) کلونو راسي ترڅنه پوري دي منظم جماعت داسي کارنه دي کړي چي دهندي قانون سره یې تکرکړي وي خوسره له دي چي کله په هندوستان کي افراطي هندوانو د قتل اوغارت بازارتوداودفسادونو لړي پیلي کړي اوهندي واکمنو د افراطي هندوانو په ګوندونو دتیري کوټکو اعمالو په نتیجه کي بندیزونه لګولي . ددي سره ئي جوخت پرجماعت اسلامي هم خاص پدي خاطر بندیزلګولي چي هندي واکمن د افراطي هندوانوناوړي هیلي اشباع کړي دهند په جماعت اسلامي ورومبي ځل بندیزدبابري جومات دشهادت په لړکي ولګید که څه هم هندوستان د باتجربه او بافکروحلقوکي دهندي واکمنو لخوا پرجماعت اسلامي بندیزلګولو یوشمیرپوښتني تعجب اواندیښني راولاړي کړي وي چي هندي واکمني ولي د جماعت په خلاف غیرواقع بینانه پالیسي خپله کړه .حال دا چي د بابري جومات د شهادت په سلسله کي یوخوا لیوني اوافراطي هندوان چي دبابري جومات دشهادت په تکل کي وو اوله بلي خوا یوشمیرمسلمانان چي دبابري جومات دساتني په اړوند ئي زیاروېسته

دبابري جومات دشهادت په لړکي هندي واکمنو چي د (آرایس ایس) ، (وي ایچ پي) او اسلام سیوکر سنګ په ډلو دبندیزلګولو فیصله وکړه په ناحقه توګه ئي دهند جماعت اسلامي تنظیم هم په دي فیصلي کي ورګډ کړ. دبابري جومات دشهادت په توطیه کي دهندي واکمنو پوره لاس دخیل و او ددي خبري شاهدي ټولو ازادوټریوالو ادارو ورکړي ، خو وروسته دجومات له شهادت نه هندي واکمنو تردي حده دخپلي زړي کینې اوکدورت څخه استفاده وکړه چي دبابري جومات دایکشن کمیټي پرځاي ئي دهند پرجماعت اسلامي بندیزولګاوه .

دبندیزلګولونه پوره دوه کاله وروسته دزیاتوهڅوپه نتیجه کي دهند ستري محکمي دحکم په اساس بندیزختم اوجماعت په پوره قوت سره خپل فعالیتونه بیاپیل کړل . دهندوستان د مسلمانانو ځانګري اسلامي غورځنګ (دهند جماعت اسلامي) یواځیني تنظیم دي چي دهندي مسلمانانو دامیدونو سرچینه اوپه سیمه کي ددي غورځنګ په صادقانه کرداراوغوره کړنلاره نه یواځي مسلمانان بلکه دجنوب اسیا د سیمي دهرمذهب واقع بینانه پوهان قانع او ددوي د تائیدوړدي دهند جماعت اسلامي خپله اسلامي مبارزه دمیدیا اودعوت له لاري پرمخ بیائي داتنظیم په هند کي غیرانتخابي تنظیم دي چي دهغه هیواد په راي ګیریو کي ګډون نه کوي خپله یواځني دنده دالله جل جلاله او دمحمد صلي الله علیه وسلم په حق پیغام د الله جل جلاله بندګانوته په رسولوکي خلاصه کوي .

دهند جماعت اسلامي دهندوزمامدارانو لخوا په هردورکي له ستونزو سره مخ شوي او بندیزونوبري لګیدلي .

دهند جماعت اسلامي باندي یوځل دراجیوګاندي په دورکي کلکه بندیز ولګول شواوزیات منوراشخاص بي دزندانونو د تورو تمبوترشابندیوان شول ، خو په هماغه دورکي په هندي ټولنه کي جماعت زیات محبوبیت پیدا اودهند ټولو اقشاروته دجماعت پوهو غړود اسلام رغونکي پیغام ورساوه او دنورومذاهبوله هوښیاروخلکوسره یې ناستي اوخبري اترې وکړي چي ددي جماعت باتجربه غړیو وکولاي شول دمذاهبو د مشرانو ترمنځ ولاړې شوي غلط فهمي لري اویوبل ته د متقابل احترام په چوکات کي داجتماعي ژوندلارې هوارې کړي .

دجماعت ترټولو غوره دنده په سیمه ایزوژبو اسلامي کتابونه ، جراید اورسالي ترجمه اوتوزیع کول دي اود جماعت هریوغړي ځان پدي مسؤل ګڼي چي د الله جل جلاله بندګانو ته د اسلام پیغام ورسوي او دحقي لاري په لورېي دعوت کړي چي الحمدلله ددي ویاړلو ورونو د دعوت اوتبلیغ په ترڅ کي دنورو مذاهبو زیات پیروان په اسلام مشرف شوي چي غوره بیلګه یې په تامل نادوکي په پراخه پیمانه د خلکو توجه داسلام مبارك دین په لوراوښتل اوټولګي ټولګي ځوانان ، سپین ږیري اوښځي د اسلام دمبارك دین د منلو پېښي دي .

دهند جماعت اسلامي دارکانو ډیو ډیرپیاوړي اومنظم ټیم چي د لوړي سویي اشخاصوڅخه متشکل دي دهند په هره سیمه اوبرخه کي ددعوت په کارونو بوخت دي له دغه منظم ټیم ویاړلي دنده پرته له ټوپیره دملك دهري طبقي ، هرنسل ،هري ژبي هرحکومت اودهرمذهب پیروانوته داسلام پیغام رسول دي چي په دي اړوند له دوي سره (٧)مخ

په اسلام کې د ټولنيز نظام ځانګړتياوې

په کيږي

ژباړن : محمد عابد "منصور"

کله چي دواده دطرفينو ترمينځ توافق حاصل شو نودشرعي نکاح دترون لپاره دي ځانونه فارغ کړي، چي په ايجاب اوقبول باندي ولاړ، اودطرفينو رضايت ورسره ، اودعادلوشاهدانو په حضورسره په صورت مومي، داټول ددي لپاره چي ددغه ترون درناوۍ وشي .

اوديوازي مصافحې اولاس ورکولو ځخه جلاتي اوامتيازپيداکړي .

نودعدل تقاضاده چي ولي ته بايد دراي حق ورکړل شي، اوپه رواج کي بايد دهغه غږاوريدل شي، په همدي ترتيب دنکاح پــــه ترون کي دشاهدانوحضورشرط دي ددي لپاره چي عقداوترون څرګند اودخلکوترمينځ ثبت اوشايع شي اودښځي حقوق خوندي وساتل شي اوقانوني مرکزني ديوي منکوحي ښځي په توګه اوداچي حقوق اوواجبات ئي څه دي داټول بايد تثبيت شي، اودنکاح آخري شرط دادي چي په سري باندي ښځه بايد له محرماتوڅخه نه وي لکه خور، خاله اوداسي نور.

په دغه ترون کي مستحبه داده چي مهرډيرنه بلکه لږوي ځکه مهردښځي لپاره قيمت او پيسي اخســتل ندي، بلکه مهردنکاح په ترون کــي دښځي اعزازاوتکريم ته يورمز اواشاره ده نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائي « دمهرونوبهترهغه دي چــي اسانه وي) هغه رازفــــرمائي (دښځــــي چي مهرلږوي دبرکت له پلوه عظمت اولوي والي لري) .

واقعيت هم دادي چي دزياتومهرونو رواج کول دنکاح په رابطه رغبت کوونکي له کمي سره مخ کوي اوبيابه زيات خلك له نکاح څخه ګوښه پاتي شي، ځکه دنکاح قدرت به ورسره نوي، اوله نکاح څخه پدي توګه ګوښه کيدل هغومفاسدوته لاره مومي چي هغه له هيچاڅخه پټ ندي په حقيقت کي اسلام دنکاح اجرااتوته بنه توسعه ورکړيده اورسيدل ورته آسانه دي. په دي ترتيب چي دنکاح ترون لکه چي وموويل په ايجاب اوقبول باندي تماميږي ، اوکوم خاص اومعين شکلي اجراات ورکي شرط ندي .

په ايجاب اوقبول کي دښځي دولي موافقه ځکه شرط ده چي ښځه په يوازي توګه دنکاح دترون أهميت نشي درك کولي، بلکه داترون چي ورته اهميت لري هغه دښځي کورني اودهغي ولي دي، اوکوم تاوان چي دناوړه اختياريه نتيجه کي رامينځ ته کيږي هغه ئي کورني ته چي بيادټولو په سرکي دښځي ولي لکه پلاراوياورور قرارلري دراوري .

۳- دميرمني حقوق :

دنکاح په ترون باندي دميرمني لپاره څه خاص حقوق تاکل کيږي چي له هغوي څخه يوهم مهروي .

مهردښځي خالص اوسوچه حق دي چي نورهيڅوك ورکي برخه نلري،اوهغه پدي باندي نه اړوزي چي دمهرڅخه دځان لپاره څه ظرف فرش اونورسامان واخلي مګرهلته چي دهغي خپله خوښه اورضاء وي .

ځکه دواده دکورجوړول اوبرابرول دظرف فرش اوداسي نوروشيانو له پلوه داټول دميړه له ذمه واريو څخه دي اوښځه پدي هکله څه تکليف اوذمه واري نلري ، همدغه راز دنکاح دترون په نتيجه کي دښځي نفقه دميړه په ذمه باندي ده ، پدي خاطرچي ميرمنه په دکورني ژوند اوداطفالو دتربيي لپاره ځان فارغه اوخلاصوي، بيانـــــــودعدل غوښتنه داده چي بايـــــد ميړه دښځي نفقه ورته وورکړي ، ځکه دهرمسئوليت په مقابل کي استحقاق شته اوثابت دي، لکه چي په مبارك حديث کي راځي : (اودوي سره په تاسوباندي په نيکي سره دنفقي اوجامي حق ثابت دي) دښځي دنفقي حق ترهغه پوري دميړه په ذمه باندي دي چي دادميرمني په توګه خپل مسئوليت سرته رسوي . اوکه له اطاعت نه سرغړونه وکړي اودميړه کورپريږدي نوبيا داپخپل سرپلله کيږي اوترڅوچي پخپل سروي دنفقي حق ئي له ميړه څخه ساقط کيږي ، اوکه دوباره دميړه کورته مخ اړونه وکړه دنفقي حق ئي هم اعاده کيږي .

ښځه په ميړه باندي حق لري چي نيکه اوښه تاسته ولاړه ورسره ولري .

قرآنکريم فرمائي اوپه حديث شريف کي راځي :(له تاسوڅخه دفضيلت خاوند هغه دي چي دکورني لپاره نيك اوښه وي) اواسلام دښځي په هکله ميړه ته په صبرباندي توصيه کوي نوکه ميړه له خپلي ښځي څخه کوم ناخوښي وليده بيادي په هغي کي بيړه نکوي .

دميړه حقوق

څنګه چي ښځه په ميړه باندي معين حقوق لري ميړه هم په ښځه باندي خاص اوځانګړي حقوق لري .اود دواړو طرفينو ترمينځ حقوق يومتقابل شکل لري ، نو دميړه له حقوقو څخه دا چي په نيکوکي په ښځه دميړه اطاعت کوي ، ځکه سلطه اوقوام دميړه په جانب کي دي الله تعالي فرمايي :(الرجال قوامون علي النساء)

دميړه تسلط په ښځه باندي بيله شکه يوطبيعي اومعقول امر دي ، او لدينه خلاصون هم نشته . ځکه د ازدواج ژوند يوخطر ناکه شرکت دي او په هرشرکت کي ديوه رئيس تاکنه ضروري امر دي نوکله چي يوانسان دبل سره دازدواج رابطه ټينګوي اويوله بله سره مشترك ژوندپيل کوي چي زيات خطرونه هم په مخنګ کي لري نو بيا به ولي ديوه رئيس موجوديت ضرور اولازمي نوي .

نو دغي نيکي علاقي اوخطرناك شرکت ته ديورئيس درلودل ضروري دي ترڅو چي داختلاف په وخت کي ورڅخه اطاعت وشي اودغه شرکت له جداوالي پرته تل پاتي شي . په دغه دنده اوتسلط لرلو کي له ښځي څخه نارينه حق په جانب د ي د دي خبري ثبوت اسلام هم کريد ي، او دنړي واقعات هم ورباندي ګواه دي اوټول بشريت کي دعمومي قاعده په توګه تطبيقوي که څه هم ځينوکسانو پدي موردکي بي ځايه مجادله کړيده .

په دغه قوام اوسلطه کي دښځي په نسبت څه ذلت نشته ځکه په سلطه کي داستعلاء ، ځان غوښتني ،اعتداء، اودشرڅخه اراده نشته ،بلکه ميړه دښځي په هکله په خيراونيکي کي زيات حريص دي ،اودخپل رياست په هکله استعلاء ، تکبر هم نلري اونه دخپل قوام اوسلطي په استعمال کي په هغي باندي تري کوي ، علاوه لدي چي پورتني شان نشته بلکه د زوجيت علاقه په کومك اوترحم باندي بناء ده

نوربيا

دمرګ او مړي عامي مسئلې

ژباړن : محمد رحيم "خنجر"

● مړي ته دغسل ورکولو ثواب :

له حضرت معاويه بن خريج رضی الله عنه نه روايت دی هر هغه څوك چی مړی ته غسل ورکړی اويا هغه ته کفن ورکړی اويا دهغه له جنازی سره ولاړشی په داسی حالت کی به راګرځی چی دهغه ګناه معاف شوی وی (احمد)

امام محمد اګر چی دا روايت موقوف (يعنی دصحابی خبره ګڼي ،ليکن ددی حکم مرفوع حديث (نبی صلی الله عليه وسلم حديث) غوندی دی لکه څنګه چی صحابی داسی خبره دخپلی رايی اواجتهاد څخه نشی کولای .

الفتح الربانی ج ۷ ص ۱۵۳)

مړی ته دغسل ورکولو له ټولو نه زيات حقدارڅوك دی ؟

اګر چی مړی ته هرمسلمان غسل ورکولی شی . ليکن بهتره خبره داده چی هغه څوك دی مړی ته غسل ورکړی چی دهغه تعلقات اواړيکی له مړی سره ډيری نژدی وی اوکه چيری داسی کسانو ته دغسل ورکولو طريقه معلومه نه وی نوبيا دی هغه کسان غسل ورکړی چی هغوی متقی ،پرهيزګاراوامين وی .

له حضرت عايشه (رض) څخه روايت دی چی نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی : کوم سړی چی مړی ته غسل ورکړ اودهغه غسل يی په پوره امانت داری ترسره کړ (يعنی دشريعت مطابق يی غسل ورکړ)اوکه چيری يی په مړی کی داسی څه وليدل چی هغه يی نه خوښيدل ، او ښکاره يی نکړل نو هغه به په هغه ورځ له خپلو ګناهونو څخه داسی پاك شی لکه څنګه چی د مورله ګيډی څخه راوتلی وی . او هم پکار ده چی له تاسو نه کوم سړی له مړي سره دخپلوی اوقرابت اړيکی لری داسی غسل ورکړی چی هغه ته دغسل ورکولو پوره معلومات وی.

(يعنی هغه دغسل په طريقه پوهيږی) اوکه چيری هغه ته دغسل ورکولو علم نه وی نو بيا دی هغه څوك غسل ورکړی چی تاسی هغه دمتقی ،پرهيزګار اوامانت داريه توګه پيژنی احمد -بيهقی) طبرانی ، حافظ ابن حجر (رح) دا روايت قوی (قابل حجت) ګڼلی دی.

مشهور حنفی عالم علامه ابن همام (رح) ليکلی دی چی دمړی پرغسل ورکولو اجرت اخستل ناجايز دی (فتح القدير - ۃ ۱ اص ۲۸٦)

د خاوند خپلی ښځی ته اوديښځی خپل خاوند ته غسل ورکول :

عامه طريقه داده چی که سړی مړشی نو هغه ته دی سړی او که ښځه مړه شی نو هغی ته دی ښځی غسل ورکړی ليکن دا هم روا ده چی ښځه دی خپل خاوند ته غسل ورکړی .

حضرت عائشه (رض) فرمايی " که تيرشوی وخت بيرته راتلای نو پيغمبر(ص) ته به خپلويی بيانو غسل ورکړی و.

حضرت ابوبکر صديق (رض) وصيت وکړ چی دهغه له وفات نه وروسته دی دهغه ميرمن حضرت اسما بنت عميس (رض) هغه ته غسل ورکړی.

حضرت اسما (رض) روژه وه نو حضرت ابوبکر صديق (رض) قسم يادکړاو هغی ته يی دروژی ماتولو تاکيد وفرمايه خو کله چی اسما (رض) هغه (رض) ته له غسل ورکولو څخه وزګاره شوه .

نو هغی وويل : "زه به نن دهغه دقسم خلاف وروژي ونه کړم"

حضرت جابر (رض) وصيت کړی ؤ چی هغه ته دی دهغه ميرمن غسل ورکړی.

حضرت ابوموسی اشعری (رض) ته دهغه ميرمن حضرت ام عبدالله (رض) غسل ورکړ.

امام احمد (رح) فرمايی چی په دی باب دعلم د خاوندانو (صحابه کرام اوترهغو يی وروسته ائمه) ترمينځ کوم اختلاف نشته (المغنی ج ۲ ص ۳۱۲) .

په همدی ډول سره خاوند هم خپلی ښځی ته غسل ورکولی شی .

له حضرت عائشی (رض) نه روايت دی چی رسول الله (ص) هغی ته وفرمايل " ای عائشی ! که ته له مانه مخکښی وفات شوی وای نو ما به غسل درکړی ؤ"

کله چی دفاطمی (رض) انتقال وشو نو حضرت علی (رض) هغی ته غسل ورکړ(مسند امام شافعی بيهقی اونور)

حضرت اسما بنت عميس (رض) فرمايی کله چی فاطمه (رض) وفات شوه نوما اوحضرت علی (رض) هغی ته غسل ورکړ (دارقطنی)

په دی ځای کی دا خبره دياداونی وړ ده چی دادجمهورو (چی امام مالك (رح) شافعی (رح) ، احمد بن حنبل (رح) او عام محدثين په کښی شامل دی) مسلك دی . امام ابوحنيفه (رح) سفيان ثوری (رح) او په يوبل روايت کی داما م احمد (رح) په نزد دخاوند لپاره خپلی ښځی ته غسل ورکول روا نه دی .

دښځوماشوم ته اودنارينه وماشومي ته غسل ورکول :

پدي باندي اجماع ده چي دښځولپاره کوچنيوهلکانوته اونارينه و لپاره کوچنيوانجونوته غسل ورکول روادي ليکن اختلاف په دي کي دي چي دهلکانواوانجونوعمربايد څومره دي .

(۱) دحضرت امام ابوحنيفه رحمت الله عليه په نزد ښځي يوازي هغه ماشوم ته غسل ورکولي شي چي هغه لايه خبرونه وي راغلي اودامام احمد (رح) په نزد چي دهغه ماشوم عمرتراووکالو پوري وي اودامام اوزاعي (رح) په نزدچي ښځي څلورکلن ماشوم ته غسل ورکولي شي .(المغني ص ۳۱۳)

که چيره کومه ښځه دبيګانه و نارينه واويابرعکس کوم نارينه دبيګانه ښځويه منځ کي مړشي .

کله چي کومه ښځه مړه شي اوهلته نوري ښځي موجودي نه وي چي هغي ته غسل ورکړي اونه دهغي خپل کوم محرم وي اونه يي ميړه وي نوهغي ته دي په داسي حال کي تيمم ورکړل شي، هغي ته غسل نشي ورکول کيداي، په همدي ترتيب که چيري کوم نارينه مړشي اوهلته له ښځوپرته بل کوم نارينه موجودنه وي هغه سړي ته دي تيمم ورکړل شي، هغه ته دي غسل نه ورکوي

له مکحول (رح) څخه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي چي کله کومه ښځه مړه شي اوهلته له نارينه وپرته نوري ښځي موجودي نه وي اوهمدارنګه که کوم نارينه مړشي اوهلته يي له ښځوڅخه بل کوم نارينه نه وي .نوپه داسي حالت کي دي دواړوته تيمم ورکړل شي اوښخ دي کړاي شي . ددي دواړو مثال دهغه چاپه څيردي چي هغوي ته اوبه پيدانه شي .

(۱) داروايت مرسل دي (هغه چي صحابه وذکرپکي نه وي) چي له همدي امله په حجت کيدو کي ئي اختلاف دي، دامام سعيدبن مسيب نخعي(رح) حماد (رح)، امام ابوحنيفه (رح) ،مالك (رح) ،احمد بن حنبل (رح) اونورو اهلحديثوعلماوپه نزد دحجت ورده ددي لپاره چي دهغوي مسلك هم داسي دي لکه څنګه چي موږپورته نقل کړي دي دامام حسن بصري (رح) اسحاق (رح) اوامام شافعي (رح) پــه نزد داقابل دحجت له دي ددي لپاره دهغوي په نزد داسي ښځي اوياسړي ته تيمم نشي ورکولي .

بلکي دهغوي دکميس لپاسه دي غسل ورکړي اوغسل ورکونکي نارينه اوياښځه دي پرهغه لاس نه لګوي بلکي خپل لاس دي توټه کي تاوکړي اوغسل دي ورکړي (المغني ص ۳۱٤)

دغاسل لپاره غسل کول مستحب دي :

له حضرت عايشي (رض) عنه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به دڅلورو څيزونوله امله غسل کاوه : لومړي دجنابت نه ،دوهم دجمعي په ورځ ، دريم له مرګ نه ،دويني له ايستلونه ،څلورم مړي ته له غسل ورکولونه .

له حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمايلي دي : کوم سړي چي مړي ته غسل ورکړي هغه ته پخپله غسل کول پکاردي اوڅوك چي دهغه جنازه پورته کړي هغه له اودس کول پکاردي . په دي حديث کي اګرچي نبي کريم صلي الله عليه وسلم مړي ته دغسل ورکولو له امله دغسل کولو حکم کړي دي ليکن دنبي کريم صلي الله عليه وسلم داحکم وجوبي نه بلکي استحبابي دي .لکه څنګه چي له بعضي نورو رواياتوڅخه معلوميږي چي مړي ته له غسل ورکولونه وروسته غسل کول ضروري نه دي .

له حضرت ابن عباس (رض) نه روايت دي چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چي تاسي مړي ته غسل ورکړ دهغه دغسل په ورکولو

(۷)مخ

شک

ذبيح الله "شرر"

زه دغمي قبرته ولاړيم ،همدا اوس مو پري د ګلابو اوبه وشيندلې ، ملاصيب يوه رکوع قرائت کړه ، خلکو دعا وکړاوخپاره شول خو زه لاهماغسي دهغه دقبرلمدي خاوري په لاس کي اړوم را اړوم اودهغه د پرون مازديګرخبري مي يوه يوه رايه يادبږي :

غمي مي يوه مباشت وروسته وليد ، زه زبيښلي او وچي شونډي ، هيڅ تسل مي پري ونشو ، له ستري مشي وروسته مي تري پوښتنه وکړه چي ولي ، هغه پخواني غمي را ته نه ښکاري !

څه چل دي ؟ ويل آشنا څه به درته وايم کاشکي چي بيخي مي داواده نه واي کړي ، واده نه شو غم شو او بيا پري دپاسه چي خداي (ج) څه موده مخکي حوي راکړ نو بالکل مي ژوند په اورکي شوي !

دغمي هري خبري به زما حيرانتيا او دپاتي خبري اوريدو ته تلوسه زياتوله ، ماويل ته راحۀ دي لړ ته کښينو کيســه راته پوره وکړه چي څه پيښي شوي ، هغه مي ترڅنګ کښيناست يوه شيبه چُو غلي ؤ بيا يي يو سوړ اسويلي و چي شونډي پراستلي وويل تاته خو معلومه ده چي مانه مي مورڅومره ګرانه ده، هغه مشر ورور مي تل په سفر وي، همدا زه ورسره يم .

زما او د مور مي له يو بل نه پرته ګوزاره نه کيږي ، وخت را باندي نه تيريږي ، خداي (ج) خبرچي بله مور اوځوي به هم له يوبل سره دومره مينه ولري او کنه ؟ ما ويل هو داڅو درسره منم چي تا ته دي مورله خپل ځان نه هم ګرانه ده او دکلي ټول خلك دي داښه اخلاق په درنه سترګه ګوري خو غمي له اوښکو ډکي سترګې راواړولې ويل خودا چي واده مي هم دمور په خوښه وکړ هغه په ګور کي يواځي وه ،ما ويل چي ديواځي توب نه به هم خلاصه شي او دخدمت په بي هم څوك پيدا شي ، دواده څوورځي لانه وي تيري شوي چي دموريه هغه ورين تندي کي مي ګونځي وليدلي تا نه څه پرده ده څه خو مي ښځه هم ښځه نه ده ،مګر مور له مي پکار وه چي له حکمت اوتدبيرنه يي کار اخستي واي .

غمي ! ما تري پوښتنه وکړه : ښځه خو به دي ژبه وره نه وي ؟

- نه نه دومره ژبه وره نه ده چي زموږ دکور فضاء دي خړه پړه کړي خو دومره ده چي اخلي پخلي يي زمادموريه ګچه برابر نه دي ، خواصل [illegible]ره بل چيرته ده !

هن ! اصل خبره چيرته ده ! زما تلوسه لا زياته شوه .

- خبره داده ، غمي ورو شاته وويل مور مي فکر کوي چي ګوندي زه تري دخه پردي لور واخستلم او نور ګني له مور سره زما پخواني مينه نشته دي شك زما د مور په زړه کي داسي زيلي ځغلولي دي چي زه يي په راويـــــستلوهيڅ بريالي نه شوم .

زما ګناه هم ده چي کله مي ورسره په اروزه مشغولتيا کي دا خبره ياده نه کړه چي مور مور وي اوښځه ، ښځه دهري بري خپل ځاي وي ، آخر دا پردي لور چي دي کور ته راغلي څه حقونه لري او کنه ! غمي دا ټولې خبري په پوه ساه وکړي .

ما ورته وويل چي ښه نو ته دي له مور سره ولي په دي هکله خبري نه کوي !

هغه لړ چپ شو ويل تا ته خومعلومه ده چي زما به زړه کي څومره غټ سوري دي .له هر کاره بي ويستي يم .لار راته ورکه ده . که زه خبر واي چي واده به راته خپله مور جلا کوي نو داخك به مي هيڅکله هم نه ژوهلي .

يره غمي ! خبره به دي حد ته نه وي رسيدلي ما دهغه دتسلي لپاره ورته وويل هغه له يوي ترخي موسکا سره خبره راغبرګه کړه چي ته نه يي خبر، آبله ورځ مي مور يوي ګاونډي ته لګيا وه چي له غمي نه ډيره خفه يم ،پردي لور شوه او زه نه شوم ؟ او نن خو يي راته مخامخ وويل چي غميه ! غمي مه‌شئ ، داپي را ته په ژوند کي نه ژوبلي

ما سره دغمي د لاسه څه نه ؤ خو بيا بي هم ورته وويل چي خبردي ، مور مور وي په اولادبي هيڅکله بد نه پيرزوکيږي .

غمي په سوچونو کي شو ، هسي کرښي بي په ځمکه ويستلي ، او بيا يي شونډي وخوړيدي له کومه نه چي مي حوّي پيدا شوي نو دمورو شعبت مي لاپسي خراب شوي ځکه چي زه هغه کله نا کله واخلم اوبهر ته بي وباسم نو بيا مي مور دخپا ګندي راته نه پريږدي ، وايي حي مخکي دي يوه ښځه وه ، اوس دي بچونګي هم پيدا شو، زه خو دي بالکل هيره کړم او دغســي سل خبري راته سهارماښام کوي .ته به وايي چي زه مي ښځي اوبچي له مور نه برمته کړي يم . داسي شك نه دي خداي (ج) بنده وساتي .زه پوهيږم چي دا دهغې ډيره مينه ده ،خو دامينه به اخر ماتباه کړي . کله خو مي زړه کي راشي چي دخپلي ښځي اوماشوم په مړي ګوتي کيږدم او ساه تري وباسم خو هغوي څه ګناه کړي ده ؟ حيران يم چي څه وکرم ، ډيره دپيغور خبره ده ګني دا ښځه مي طلا قوله !

ما چي د غمي د خولي نه دطلاق تکبيراوريده نو پوه شوم چي هغه په ډير سخت جنجال اوښتي دي اودا مي له ځان سره ومنله چي ورځم به اوله مورسره به يي مشوره کوم ، خو هغه راته وويل چي يو ځل مي څه خپلوان دهمدي کار لپاره راوغوښتل مګرنتيجه يي له به يدتره شوه

ښه نو څه کوي ، دکور مشکل خو د بايد حل کړي ،موږ ته کوم کار راسپاري چي ترسره يي کړو ! ما ورته په نرمي وويل .

هغه له ځان سره وګونبهه ، زړه راته وايي چي غميه ځان دوه ځاي کړه ، نيم دي دښځي اونيم دي دمور ، خو که غمي دوه ځاي شو نو بيا به دهيڅا په کار رانشي .

زه د غمي په دي خبره ووبريدم چي دا څه ګټي دوي وايي ، څه تسل مي ورکړ اوورسره مي نور وکړ چي زه به کور ته درځم او که خداي (ج) کړي ؤ دا مشکل به حل شي، هغه د تلو په وخت په پيکه موسکا راته وويل چي راشه ، خوناوخته نه کړي .

موږ په همدي وعده سره بيل شوو ، مګرزه دهغه په دي خبره نه ؤم پوه شوي چي راشه ،خوناوخته نه کړي.

ځکه چي سبا غرمي ته نژدي دغمي په شکلي ځواني داورګاوي تيرشوي اوهغه يې دوه ځايه کړي ؤ ، خلکو به دهغه دځوانيمرګي په هکله فرځه ويل خو زه پوهيدم چي هغه د شك قرباني شو ، غمي دوه ځايه شو اومات غمي دچا په کار نه راځي .

سيرة النبي

نويسنده : ابوالحسن ندوي   برگرداننده : تميم

پس ازبعثت

زيدبن حارثه غلام پياه .صلي الله عليه وسلم نيز دين اسلام را پذيرفت و اوكسي بود که پيامبر (ص) به صفت پسرخوانده خويشش برگزيده بود .

اينان افرادي بودند که به صدق ، اخلاص وحسن سيـرت پيامبرعليه السلام به دليل نزديکي به آنحضرت (ص) ، بيش ازديګران آګاهي داشتند وخانواده پيامبر(ع) هم به اين نکته آګاه بود .

اسلام آوردن ابوبکر بن ابوقحافه وفضليت وي درامردعوت به سوي اسلام .

ابوبکرپسرابي قحافه درميان قريش ازنګاه هوشياري ، جوان مردي وعدالت پسندي داراي منزلت خوبي بود ، هميڼکه اسلام راقبول کرد، به اظهار واعلاي آن پرداخت .ابوبکر درواقع مردي دوســت داشتني وسهولت پسند بود . درشناخت نسب وحسب قريش وچګونګي احوال آنها معلومات به سزايي داشـت . وي بازرګاني بـــــود صاحب اخلاق نيکو ونزد همګان مشهور وپسنديده. پس باتمام مساعي آماده دعوت الي الله والي الاسلام ګرديد ، زيرا قومش به وي اعتمـاد و اطمينان کلي داشت و اونيزپيوسته به خانه هاي آنان ميرفت وباايشان مجلس آرايي مينمود .

به اسلام ګرويدن بزرګان قريش .

براثردعوت ابوبکربعده بزرګان قريش که داراي منزلت وسيادت بودند ، اسلام را قبول کردند .ازآن جمله است عثمان بن عفان ، زبيربن العوام ، عبدالرحمن بن عوف ، سعد بن ابي وقاص وطلحه پسرعبيدالله . ابوبکربا آنها به نزد پيامبر(ص) برفت وهمه آنهابخداي يګانه ايمان آوردند .

مردان ديګري هم ازقريش که صاحب شرف ومنزلتي بـــودند ، اين سلسه را دنبال کردند . ازجملـــه ايشان ميتوان از ابوعبيده بن جراح ، ارقم پسرابي ارقم ، عثمان پسرمظعون ، عبيده پسرحارث پسرمطلب ، سعيد پسرزيد ، خباب پسرأرت ، عبدالله بن مسعود ، عمار پسرياسرـصهيب و ...غيره نام برد.

همچنان مردان وزنان بصورت مداوم ومسلسل به اسلام روي مي آوردند ، تا آنکه قصه اسلام آوري ها درمکه فاش ګرديد وهمګان ازآن درهرجا صحبت مينمود .

دعوت آشکارا بر بالاي کوه " صفا "

پيامبر عليه السلام دعوت خويش را پنهان نګهميداشت وتامدت سه سال بهمين طريق مي بود ، تا اينکه خداوند متعال به اظهاردين امرش فرمود وچنين ګفت ..پس آشکارا کن به آنچه فرموده ميشوي و روي بګردان از مشرکين" .

وګفت : " ... و بترسان قبيله نزديکتر خود را ، خم کن بازويت را براي آنانيکه پيروي کرده اند ترا از جمله مؤمنان " . و " بګو: شکي نيست که من بيم دهندهٔ آشکارم" .

پس ، پيامبرعليه السلام بربالاي کوه صفا برآمد وبه بانګ بلند ندا کرد :

" يا صبا حاه " ! اين صدا ، در نزد مردمان صدايي بود شناخته شده وقابل توجه . هنګاميکه شخصي خطري را از جانب دشمن احساس ميکرد که ګويا بصورت غافلګيرانه برشهر يابرقبيله يي از ايشان هجوم ميآورد ، بنا براين برمحل بلندي برآمده بانګ برميآورد : " يا صبا حاه "!! لهذا قريشيان بلادرنګ به محل ندا ، شتافته و درمقابل شخص فرياد کننده قرار ګرفتند .

سپس رسول الله صلي الله عليه وآله وصحبه وسلم فرمودند :

" اي فرزندان عبدالمطلب ! اي فرزندان فهر ! اي فرزندان کعب ! اګر شما را خبر دهم که طايفه يي ازدامنه اين کوه اراده حمله برشمادارد ، آيا ګفته ام را تصديق خواهيد کرد " ؟

عربها مردمي بودند که به واقعيت عمل توجه داشتند ، درمقابل خويش شخصيتي را يافتند که راستي و امانت کاري ونصيحت ګويي را در اوبارها تجربه کرده بودند و او صلي الله عليه وسلم بالاي کوهي ايستاده بود که به سهولت ميتوانـست آنچه را در پيش رويش ،يا درپشت سرش قرار ګرفته ، مشاهده کند ، در حاليکه عربها جز اشياي پيش روي شان ، چيز ديګري رادبده نميتوانستند ! پس ذکاوت و انصاف ، آنان را به تصديق وتاييد آن پيام رسان امين وصادق هدايت کرد ، بنا براين ګفتند : بلي !!

آنګاه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمود : " من ترساننده ام شما را به رسيدن عذاب سختي" .

همه اعراب خاموشي ګزيدند ، به جز ابولهب که ګفت : هلاکت وزيان بهرهٔ زنده ګيت باد که ما رابه چنين چيزي دعوت کردي .

نمايش دشمني قوم وعطوفت ابوطالب به آنحضرت صلي الله عليه وسلم

ما داميکه پيامبر عليه السلام دعوت به سوي اسلام را آشکارساخت وحقايق راچنانکه خداوند (ج) به آن امر فرموده بود ، بيان نمود ، قومش نه از پيرامون وي کنارميرفتند ونه هم بروي خشمګين مي شدند : تا آن وقت که ګفت :

خدايان دروغين شان را ازميانبردارند . درهمين جابود که غيرت جاهلي آنان به جوش آمد وبه مخالفت وعداوت پيامبرعليه‌السلام برخاستند .

درهمان حال ابوطالب به سابقهٔ عطوفت درکنار پيامبر صلي الله عليه وآله وصحبه وسلم ايستاد ومشرکين قريش را نګذاشت که آزار واذيتي به وي (ص) برسانند .

رسول الله صلي الله عليه وسلم طريق دعوت واظهار حق را در پيش ګرفت وهيچ چيزي نميتوانست که سد راهش ګردد ، وابوطالب به حمايت و نوازش برادرزاده اش مي پرداخت وروزتاروز به پشتيباني اش شدت مي بخشيد .

چون اين حالت ادامه پيداکرد ، جمعي از مردان قريش نزد ابوطالب رفتند وګفتند : اي ابوطالب، برادر زاده ات خدايان ما را دشنام داده ، دين ما را متروك ګردانيده ، بزرګان ما را توهين کرده وپدران مارا به ګمراهي نسبت داده است : پس ، يا دست او را از سرما کوتاه ګردان ويا اينکه درميان ما و اوحايل مشو ، زيرا تواز رهګذر عقيده وديانت همانند مايي .

پس ابوطالب با آنان سخن به ملايمت ونرمش ګفت وبااسلوبي نيکو عودت شان داد : بدين طريق از آنچه برآن تصميم ګرفته بودند صرف نظرنمودند .

ميان پيامبر عليه السلام وابوطالب :

قريش قصه رسول الله صلي الله عليه وسلم را درانيجا وآنجا برزبان آورده وهمديګر را به دشمني باوي تشويق ميکردند وبدين ترتيب بارديګري نزد ابوطالب آمدند وګفتند : اي ابوطالب ،ترا از نګاه سن ، شرف ومقام برماعزت و احترامي هست ،اميد واريم که برادرزاده ات راممانعت کني . اګر چنان نکردي ، سوګند بخدا که بيش ازين درمقابل شنيدن دشنام پدران ما ، توهين بزرګان ما وعيب ګيري برخدايان ما صبر نخواهيم کرد! پس يا آزار او را ازمايکسوکن ويا اينکه بر وي حمله مي بريم !

و دراين قضيه سخت احتياط کن تامبادا يکي از دوطرف هلاك ګردد !

از يکســر جدايي قوم و دشمني با آنان بر ابوطالب ګراني مي آورد؛از جانب ديګر ازمشرکين ومعاندين هيچکس به اسلام پيامبرعليه السلام ،ميل نميکرد ، بناءً رسول الله صلي الله عليه وسلم رابه نزد خود طلب کرده ګفت :

اي برادر زاده ام ! قوم توبه نزد من آمدند وبرايم چنين وچنان ګفتند ، لهذا بر من وبر خودت رحمي کرده ،کاري را که توان برداشت واجراي آن راندارم ، برشانه ام مګذار !

آ! آفتاب را درکف راست وماهتاب‌را در کف چپم بګذارند !!

پيامبر عليه السلام ګمان کرد که ابوطالب خوفناك ګرديده وبيش ازين نميتواند به مقاوت وهمکاري باوي بپردازد . بنا براين فرمود : اي کاکايم ! سوګند بخداوند (ج) اګرآفتاب را در دست راستم بګذارند وماهتاب‌رادردست چپم ، به اين آرزو که کاردعوت الي الله راترك نمايم ،هرګز چنين نخواهم کرد تااينکه بادين حق آشکار و جهانګيرخواهد شد ويا اينکه من هلاك ونابود .

ادامه دارد

ترڅوچې مؤقت حکومت جوړ نشي په هیواد کې سوله اوامنیت نشي راتلای

مجیب

ددنیا په هیڅ ګوټ کې داسې هیواد چې هغه دډیروړوکي مساحت اودکم نفوس خاوند هم وي نه په سترګوکیږي چې په هغه کې دکم له کمه نظم، قانون اوحکومت نه وي. اوهم دخلکو د ا منیت اوحیثیت خوندي ساتلو په خاطردحکومت جوړولو لپاره یوه مشخصه دستوره یاقانون ونلري چې دهغه قانون پــه اساس دملک واکداریاحاکم وټاکلي شــي اوبیا د حکومت واکداران ځان دملت اوخاورې په وړاندې مسؤل ونه ګڼي.

په تاسف سره باید ووایو چې زموږ په هیــواد کـــې دکمونستانو له کودتاوروسته بیاتردانن ورځې پورې دقدرت نیولو اوساتلــویواځنی لاره دټوپک په شپلۍ کې لټول کیږي اوله هغې ورځې نه زموږ په هیوادکې چې څوک هم دقدرت کرسي ته رسیدلي دهغه غوښتي چې ځان دټوپک په زورپرخلکو مسلط کړي. چې داهــې بیځایه خوبونه دي.

په هرترتیب له کمونستانو څوځکه ګیله نه وه چې دکمونیزم مکتب اصلا په وحشت اوبربریت متکي دي اود هغوي په مسلک کې، وژنه، تباهي، وراني اوپه زوره ځان په خلکو مسلط کول یوقانوني کاردي. خوګیله دربانې، سیاف اومسعودنه ځکه ده چې دوي ځان مجاهد او مسلمان بولي لیکن دمسلماني کارونه نه کوي په اسلام اواسلامي شریعت کې خوصفاقانون شته چې دهغه په رڼاکې بایدټول مسایل حل شوي واي. ولي بیاهم رباني اودهغه انډیوالانو داهرڅه شاته ته غورځولي اوقدم په قدم دخپلو کمونستو مؤتلفینو په فرمایش د کمونستانو لاره تعقیبوي

په اسلامي شریعت کې په زوره ځان پخلکو حاکم ګرځول حرام دي اوهم په نبوي ارشاداتو کې زموږ پیشوا په صفاتکوخپل امت ته ویلي چې که څوک په خپله خوله دځان لپاره د ا مارت اومنصب تقاضاکوي اوبیا ورته منصب په لاس ورشي نوخداي (ج) له هغه سره مرسته نه کوي.

ګورو چې زموږ په هیواد کې عملادقدرت خلاموجوده ده، رباني اودهغه انډیوالان تـــه غواړي چې داخلادکه شي، رباني اودهغه انډیوالان غواړي چې دزورتزویرچل اوفریب له لارې ځان په ملت حاکم وګرځوي. حال داچې په داتیرو دوه دیرش میاشتوکې په اثبات ورسیده چې دوي ددي اهل نه دي چې دملت واکمني پرمخ بوزي.

رباني غواړي چې په هیواد کې انارشي قایمه وي، کله چــي دهغه غیرقانوني شپږمیاشتي د واکمني موده پای ته رسیده په درواغویي اعلان وکړ چې زه حاضریم دقدرت نه استعفي وکړم اوقدرت د انتقال پروسه دمحمود مستیري پــه ذریعه چې دملګروملتوغوښتنه زموږد هیواد د بحران دخاتمي په اره توظیف شوي سرته ورسوم اوبیا دهغه ترڅنګ یې دخلکــو د ذهنیتونو دمغشوشولوپه خاطرپله دندوره هم غږوله چې دولایاتو نماینده ګان اودجهادي تنظیمونو مشران باید کابل ښارته راشي زه دقدرت د انتقال پروسه دهغوي په وسیله سرته رسوم.

کله چې محمود مستري دخپلوهلو ځلو څلورم پړاو پیل اوکابل ته ولاړ هلته رباني سره دقدرت دانتقال په مسئله وغږیده اوهغه ته یې وویل چې دیوې هفتې یا لس ورځو په موده کې بایدقدرت انتقال شي، رباني چې په خپله کیسه کې څه نه لرل ترڅومحمود مستیري پرې قانع کړي، دهغه وړاندیزونه یې په ظاهره ومنل چې وروسته بیا محمود مستیري جلال آباد کې دحزب اسلامي افغانستان له مجاهد امیراودهماهنګي عالي شورا له نوروغړو سره وکتل دوي سربې هم دقدرت انتقال اودهیواد دروان بحران دحل په خاطرپه یومیکانیزم توافق وکړ.

اوس داسې ښکاري چې رباني له خپلوخبرونه په شا شوي د محمود مستیري دپروسې د سبوتاژ کولو په خاطرهغه وایي چې دهیواد روان بحران بواځې په داخل کې دتنظیمو نومشران حل کولای شي نه د بهرنه خلک، حال داچې څه موده مخکې رباني دهرات په یو اړخیزه غونډوکې ویلي وچې نورنو دافغانستان په سرنوشت خوکسه رهبران لوبې نشي کولاي، دا درهبرانو کارنه دي چې دټول ملت سرنوشت وټاکي ترواوسه چې رهبرانوهرڅه وکړل خوله دي وروسته رهبران دهیواد په سرنوشت کې نقش نه لري. ولې اوس دپخواني خبرې پرخلاف وایي چې رهبران دې ټول شي اومسٔله دي حل کړي. خوموږیه دي باوریوچې داپه دي نظرکې هم صادق نه دي. د رباني له دغوګډوډو وخبرونه له ورایه معلومیږي چې هغه نه غواړي دهیواد روانه لانجه دخبرواتروډلارې حل شي، هغــه غــواړي چې دجنګ جګړوحالت همداشان دوام ولري اوزموږ هیوادوال دتیروشپاړسو کلونو په شان داوراویاروتو په لمبوکي ولوېږي.

داچې کله وایي محمود میستري داکارپیل کړي زه لــه قدرت نه ګوښه کیږم اوکله وایــې چــې دولایاتواو تنظیمونو نماینده ګان دې کابل ښارته راټول شي اوبیاوایي چې دتنظیمونو مشران دي سره راټول شي اوهیوادبحران دي حل کړي زه حاضریم له قدرت نه مستعفي شم لیکن داهــې چلوټې پلمې دي چې په لاره یې اچولي ترڅوده ته فرصت په لاس ورشي چې دخپلوماتي خوړلو قواونظم اونسق برابراودبلې جګړي لپاره ځان آماده کړي

(۷)مخ

تعمیر خانواده

پیوسته به گذشته ۱۵

ترجمه تاثیر

حقیقت اینست که انسان درپیدایش اولاد ،کاملاً متکي به خداست، اگرقدري دقت شود، این حقیقت روشن مي گردد که کائنات بصورت اتم واکمل، به حکم واراده خـــدا مي چرخد، ودرپیدایش وگردانیدن چرخ آن باخداي یکتا وقدیر، هیچ موجوددیگرانبازوشـریك نیـست، درپیدایش اولاد به غیرازاراده خدا(ج) دیگر هیچ وسیله یي کارگرنمي افتد، همچنان درانتخاب دخـتریاپسراگرتمام اطبا، حکما گردهم آیند، نمي توانند خلاف اراده وخواست خدا کاري راانجام دهــند. تـــاهنوز درحالیکه صنعت کمپیوتر بیشترین تسهیلات رابدست بشرقرارداده، هیچ طبیبي امکان نیافته است تابخواهش واراده خـودصاحب دختریاپسري گردد، هکـــذا هیچ کس نمیداندکه پیدایش دخترسرایش وسیلهٔ خیروبرکت است یاپیدایش پسر. دیده شده است که خانه٭ داراي تعداد زیادي ازدختران است اما محل اطمینان وسکون میباشد ودرخانه دیگري تعداد زیادي ازپسران است، لیکن هریك آنها دردسري براي مادر وپدرمیباشـندگهي واقـــع گردیده است که مادر وپدري براي داشتن پسردست نیازبه بارگاه الهي بلند کرده اند،اما زماني دعـــاي شـــان مقبول قرارگرفته وصاحب پسري شده اند، بعدها آنهابقدري ازدست پسرپــه تنگ آمده اندکه براي آن دعاي بدغوده وگفته اندکاش بدنیانمي آمـــدي کــه ماازشر وضررت درامان مي ماندیم ویــاکاش درهمان روز تولد ازدنیا میرفتي تا ماراداچاراینقدرمصایب ومشکلات نمي نمودي !!

حقیقت مسلم اینست که بر غیب جزخدا دیگري راعلـــم نیست واو(ج) میداندکه سعادت وخوشبختي انـــسان نهفته درچه چیزاست.

دختران راوسیله سعادت بینگارید

خانم عمران به حضورخدا عرض کرد که خدایا! اگرتومراصاحب فرزندي بنمایي اورابه پیشگاه پرعظمتت نذر وقرباني مي نمایم. پس توقرباني حیره نده.

مراقبول بفرما! پس زمانیکه دختري به خانه اش متولد گردید، سخت برآشفت ومتألم گردیدوگفت : پروردگارا! این دخترشایسته نذرنیست. اي بارخدایا! این دخترچگونه میتواند آرزویم رابرآورده سازد ؟ مگرخدا(ج) میدانست که خانم عمران چه چیزي بدنیامي آورد، درحالیکه خانم مذکورپریشان ازآن بودکه نمي تواند به وعده خود وفانماید؟ اوکي میدانست که آن دختر روزي مایه سعادتش خواهد گردید ونامش راتاقیامت روشن نگه خواهدداشت !!

نام دختر عمران درآخرین صحیفه آسماني محفوظ شدوتاروز قیامت ملیاردهاانسان ازآن یادبعمل میآورند واومادر یك پیامبراوالوالعزم گردیدکه خداي یگانه به او کتابي به اسم انجیل فروفرستاد.

درحالیکه خانم عمران ازتولد دختر بخاطر شکستن تعهدش باخداي یگانه ناراض بود، خداي بزرگ نذراوراچنان قبول کرد که داستانش تاروزحشرسینه به سینه درگردش خواهدبودونامش درصحیفه یي درج ومحفوظ است که درخواندن ،گوش دادن وشنواندن آن ثواب است. قرآن داستان مذکوررا آبابیان شیواوروان ذکرمي نماید : (پس قبول کردپروردگارمریم رابه نیکي وپرورش اورابه نیکي وکفیل گردانید بروي زکریا را، هرگاه که داخل مي شد زکریادرمسجد میبافت نزد مریم روزي راومي گفت : اي مریم ازکجااست این روزي؟ (مریم) مي گفت : که (روزي) ازنزد خداست، هرآینه خدامي دهد روزي هرکي رامیخواهد بدون حساب. (آل عمران - ۳۷)

اولاد نعمتي الطاف شده ازجانب خداست، خواه اوپسرباشد وخواه دختر.

پس وظیفه ووجیبه نعمت یافته آنست که قدرنعمت رابداند وشکــرمحسن رابجـــاآورد. براي یك مـومـــن هرگز شایسته ونیکونیست که نعمت خدا(ج) را به دیده حقارت بنگرد وشکرنعمت را ادانه نماید.

خداخودمیداندکه چه کسي لایق وسزاوارچگونه نعمتي هـست تااورا باآن نعمت بنوازد واوست که باعلم قدیم وقدرت بالغه خود فیصله مي نماید،پس راضي بودن به فیصله هاي خدا(ج) وآنرا حق وخیر دانستن ازصفات وممیزات مومن است.

عقیده هرمرد وزن مومن، نسبت به حضرت محمدصلي الله علیه وآله وصحبه وسلم اینست که شخصیتي افضلترازآن دردنیا نه پیداشـده ونه پیدامي شـــود وایشـــان (ص) پدرچاردختربوده اندوحضرت خـدیجه رضي الله تعالي عنــهاکـــه پیامبر بزرگواراسلام درباب مقـام ومنزلتش میفرماید: درزمین وآسـمان بهتر ازاو(رض) کدام زن نیــست. خـدااز او (رض) براي نبي کریم صلي الله علیه وسلم چاردخترعطانموده بود وحضرت خدیجه (رض) مادرچاردختربود.

حضرت خاتم المرسلین صلـي الله علیه وسلم براي امت خویش هدایت مي دهد : (ازدختران نفرت نه نمایید، هرآینه من پدردختراني هستم)

درجاي دیگر میفرماید : دخترها خیلي محب وخیلي ها باخیر وبرکت اند.

(کنزالعمال)

حضرت ابن شریط مي فرماید: من ازحضرت خاتم النبیین صلي الله علیه وآله وصحبه وسلم شنیدم که فرمودند : وقتي براي کسي دختري پیدامي شود، خدا(ج) فرشته هایي رامي فرستد، آنها(فرشته ها) آمده مي گویند : السلام علیکم اي اهل البیت. (بعداً) طفل رابه بالهاي خود گرفته ومسح مي نمایند، بر سراو،پس مي گویند این یك موجود ناتوان است که ازوجود ناتواني پیداشده است. کسي که پرورش این موجود ناتوان رابدوش بگیـرد تاروزقیامت مـــدد خــداشامل حـــال اومیباشد. (المعجم الصغیر الطبراني)

شخصي نزد حضرت عبدالله بن عمررضي الله عنهما نشسته بودکه پدرچندتن دختربود. اوگفت : کاش همه این دختران بمیرند! وقتي عبدالله بن عمررضي الله عنهما شنید به خشم آمدوبراي شخص مزبور گفت : آیا روزي آنهاراتومیدهي !!

عقیده مومن براینست که روزي دهنده خداست وخدا(ج) براي هرجنبنده یي روزي تهیه دیده است وهرزنده جاني همراه باروزي خود بدنیامي آید. پس انسان ناتوان که خود دربندذات توانایي قرارداره کیست کـــه او دعوي روزي دادن دیگران را نماید، درحالیکه خود محتاج به داد وعطاي خدا است ؟

هرگزبیش بیني شده نمي تواندکه نصیب کي چـه است وفرزند ناتواني چقدر خوشبخت وتوانا خواهدبود. این بعیداز قدرت خدانیست کـه نه تنها روزي مولود را افزوني بخشد بلکه به برکت او درروزي همه اعضاي خانواده خیر وبرکت موهبت نماید.

مـــژده وگواهي حضرت رسول مقبول صلي الله علیه وآله وصحبه وسلم براي دخترداران اینست که محبت وسلوك نیکویه دختران باعث نجات ایشان ازآتش دوزخ گردیده، وسیله یی براي دخول شان به جنت میگردد. پس مسرت وشادي باد دخترداران را !

(ادامه دارد)

تراوسه پورې...

سرچینو دقدرت دانتقال په سردسولي دکمیسیون دغړو دنومونو داعلانولو په اړه خپورکړي هغه بې اساسه اوبې بنیاده دي.

په فلسطیني ولس کې دحماس محبوبیت اودصهیونست رژیم وارخطایي

ژباړه : احمدضیا "رحیمزي"

څه موده وړاندې کله چې (عرفات) داسلامي جهاد سازمان دشهید غړي «حسني عابد»دجنازي په مراسموکې دګډون کولو لپاره دنوموړي کورته ولاړ، نوهلته دزرګونو تنو غم لړلیو جنازه کوونکو له خوا له خورا ناوړه اوتندعکس العمل سره مخامخ شو.

ماتم ځپلیوفلسطینیانو چې کله پرعرفات سترګې ولګیدې نواحساسات یې راوپاریدل او«دمړدې وي اسرائیل»، عرفاته! زمونږله مخې لیرې شه !!» شعارونوته یې پیل وکړ.

اودعرفات امنیتي ګارد چې کله دحالاتویه نازکوالي وپوهیدل، نوهغه یې محاصره کړ، او پدې توګه عرفات مجبوره شو چې په پټه، دشاله لورې تیښته وکړي.

اصل موضوع داده چې دصهیونست رژیم له لورې پرعرفات فشارراوړل کیږي ترڅو د«حماس» او«اسلامي جهاد»په څېرسازمانونه ترخپل کنترول لاندې راولي، ولې داکار دولس ترملاتړ پرته امکان نلري .اودولس دملاتړمسئله، دپورتني واقعې له جریان څخه په ښه توګه پوهیدل کیداي شي.

اوس که عرفات دصهیونستي رژیم ضداحساسات کنترول نشي کړاي نوددي امکان شته چې صهیونست رژیم دیرسخت عکس العمل وښيي اودغزي اواریحا دنیمه خپلواکي سیمي سره خپل سرحدونه وتړي چې پدې توګه به هغه په زرګونه تنه فلسطینیان چې دعربوپه نیول شویو ځمکو(اسرائیل) کې غریبي اومزدوري کوي، بې کاره اوبې روزګاره پاتې شي. اوکه عرفات وغواړي د«حماس» یانوروواسلامي سازمانونو سره سخته رویه وکړي، ددې امکان شته چې په نیمه خپلواک فلسطیني هیوادکي کورنې شخړه اوجګړه ونښلي، نن د«حماس» غړي په بشپړه آزادي خپل احساسات څرګندوي اووایي « مونږدسولي پدې منصوبه لعنت وایو» چې له همدې یوې جملې څخه دعرفات اواسرائیلو په اړوند دهغوي احساسات اندازه کیداي شي.

احساس دي، چې صهیونست رژیم اوس له حماس سره هم دخبرو اترو لپاره تیاردي.

څه موده وړاندې دصهیونست رژیم دبهرنیو چارو وزارت مرستیال « یوسي بلسن» داسرائیلودغه نوي سیاست ته په اشارې سره څرګنده کړه، مونږ دحماس له غړو سره په خبرو باندې کوم اعتراض نه لرو. خوپدې شرط چې هغوي داسرائیلو دله مینځه وړلو فکرله مغزوڅخه لیرې کړي.

«یوسي بلسن» همدارنګه وویل، که «دحماس غورځنګ وغواړي دازادي بښونکي سازمان (عرفات) له غیرمذهبي (سیکولر) قیادت په وړاندې دیوه مذهبي اپوزیسیون رول ولوبوي، مونږ له هغوي سره دمخالفت هیڅ دلیل نه ګورو.

خودډي برعکس د«حماس» سازمان بیاله صیهونست رژیم ســره دهردول سیاسي روغې جوړې مخالف دي، اوعقیده لري چې دصهیونســت رژیم یهودې واکمن غواړي دسیاسي تصفیې لورې ته ددې غورځنګ دغړیوپه آماده کولوسره ،هغوي بوازې کړي اوهریو په بیله بیله لارله خپلې مخې څخه لیرې کړي.

همدارنګه دغزې دترانګي اواریحا دخپلواکي سیمې اوسني حالــت، نه یوازې صهیونست رژیم تــه، بلکه په خپله یاسرعرفات ته هم پریشاني راولاړې کړې.

داسې ښکاري چې دپخوا زماني دوه حریفان (عرفات اورابین) اوس په ګډه دیوه هدف لپاره کارکوي، اوهغه هدف د«حماس» دټکولو اوترکنترول لاندې راوستلو لپاره دبېلابېلو لارو، چارو لټول دي.

دامریکا څخه خپریدونکي د«نیوزویك» مجلې پدې اړوند لیکلي دي، رابین او عرفات دواړه باید پدې وپوهیږي چې پراسلامي سازمانونو باندې کنترول ترلاسه کول، کومه آسانه

دصهیونست رژیم پوخ ته اوس په بشپړه توګه اجازه ورکړل شوې چې دوي د«حماس» په کارکونکو چې هرچیرته په نظرراشي وړاندې دزې وکړي. او په زندانونو کې دتفتیش په جریان کې هم اوس دصهیونست رژیم وحشي صفته ګوډاګي د«حماس» غورځنګ دغړیودهردول ځورولو اوشکنجه کولو لپاره بشپړه آزادي لري.

دیادونې وړده چې تردې وړاندې دصهیونست رژیم واکمنوپه رسمي ډول دزندانیانوشکنجه نه منله، اماتردې پریکړې وروسته یې خپلوکارکوونکو ته رسماً آزادي ورکړې دصهیونست رژیم دجاسوسي دستګاه اوپوځ پدې ورځوکې په ډیرشدت دهغه (۲۷) تنوفلسطیني مبارزینوپه لټه کې دي، چې ویل کیږي اسرائیلو په دښته کې دهم دیوې چاودنې مسئولیت پــه غاړه لري.دصهیونست رژیم دجاسوسي دستګاه دریوټ له مخې ددې دلــې مشــر(۲۹) کلن «یحیی» دي چې پــه چاودنه کې داستعمال شوي بم دجوړولومسئولیت یې په غاړه وو.

بل لورې ته دحماس غورځنګ هرغړي چې دصهیونست رژیم له ځواکونو سره په مقابله کې وژل کیږي، دفلسطیني ولس پـــه مینځ کې د«قهرمان» حیثیت غــوره کوي، اوله همدې امله ده چې دصهیونست رژیم ځواکونه اوس دزیاتو وژنو څخه ډډه کوي.

دحماس غورځنګ دکارکوونکو اوغړوموراال لوړ، اوحوصله یې اوچته ده، ددې غورځنګ یوغړي وایي، «مونږچې کله دحماس سازمـــان غړیتوب ترلاسه کوو، داپریکړه موکړې وي چې اوس خوشهادت زمونږمقدردي، هغه شهادت چې دهرمسلمان لپاره دیوه خوب بڼه لري.

دغه یهودیانوته ووایي چې موږ هیڅ کله نه وېرېږو، اوپه ډېرآرامه خوب وبدبیرو دحماس دغورځنګ دغړیو دغه

دحماس « غورځنګ باید په څه ډول ترکنترول لاندې راوستل شي، داهغه پوښتنه ده، چې پدې ورستیو کې یې دصهیونست رژیم دواکمنو ذهنونه پریشانه کړي دي.

دصهیونست رژیم په لوړوحلقو کې هره ورځ په هغه ممکنه لارو چاروبحث اوخبرنه کیږي دکومو په استعمال سره چې دوي غــواړي، ورځ په ورځ پراخیدونکي دغــه غورځنګ وټکوي اوسرکوب یې کړي.

دانګلستان څخه خپریدونکي «تایم» مجله د«حماس» پرورځ په ورځ زیاتیدونکـي محـــبوبیت اومقبولیت باندې دیوې تبصرې په ترڅ کې لیکي : «داخبره اوس منل شـــوې ده چې د«حماس» غورځنګ ریښې، اوس په فلسطیني ټولنه کې ډیرې ژورې تللي دي. او ددومره محبوبیت درلودونکي یوسازمان څخود پوځي قوت په استعمال سره، دڅه مودي لپاره غلې کولاي شو. خوپه دایمي توګه دهغې سرکوب اوله مینځه وړل ناممکن کاردي »

دحماس پرفعالیتونوباندې نظردرلودونکي داسرائیلو لوړپوړي افسران ویره لري چې دغه غورځنګ به په راتلونکي کې تردې هم زیات محبوبیت ترلاسه کړي اودیوه قوي اوځواکمن غورځنګ په بڼه به راپورته شي.

ولې دصهیونست رژیم واکمن دحماس غورځنګ دفعالیتونودمخنیوي لپاره چې کومه لاره غوره کړي، هغه ددې خیالاتواوافکارو سره ورته والي نه لري، اودخبرې منابعودریوټونو څخه داسې ښکاري چې صهیونست رژیم پریکړه کړې ترڅو دغه جګړه دوه په دوه پرمخ بوزي، داسرائیلو دیوه افسر په قول دوي پریکړه کړې چې ددې تنظیم (حماس) دفعالیتونو دکنترول لپاره به هرډول اقدامات چې لازم وویني ترسره کړي.

دامنیتي مسئولینوویناده چې

په اسلامي ریاست کې دفقهي اختلافونو حل

ژباړن : عبدالودود "محسن"

لکه څرنګه چې دحضرت معاذ بن جبل (رض) نه روایت دي:« کله چې رسول الله (ص) زه یمن ته لیږلم نوویې فرمایل « کله چې تاته کومه معامله دپریکړې لپاره راشي نوته به دهغې فیصله په څه ډول سره کوي ؟ ماځواب ورکړ چې «زه به دهغې پریکړه دالله (ج) دکتاب په رڼاکې کوم » وي فرمایل : که دالله په کتاب کې به دي اړه کومه واضحه خبره ونه مومي نوبیا به څه کوي ؟»

ماعرض وکړ چې « بیابه دالله درسول له سنتوسره سم پریکړه کوم»

بیاني وفرمایل :« که درسول الله (ص) په سنتوکې هم په دې باب کومه څرګنده لارښوونه موجوده نه وه نوبه دې صورت کې به بیا څه کوې ؟» ماعرض وکړچې « بیابه زه اجتهادکوم اوپه دي اجتهادکې به هیڅ قسم لاپروایي نه کوم»

رسول الله (ص) چې کله زماداخبره واوریده نوزماسینه ني په لاس ووهله اوویې فرمایل چې « دهغه خداي (ج) شکردي چې دالله درسول استازي ته ني دهغې خبرې توفیق ورکړ کومه چې درسول الله (ص) خوښه ده ».

باالکل همدې ته ورته لارښوونه حضرت عمر(رض) قاضي شریح ته کړې وه هغه ورته لیکلي وُ :« اذاوجدت شیئاً في کتاب الله فاقض به ولاتلتفت الي غیره واذااتي شيٌ لیس في کتاب الله ولیس في سنة رسول الله ولم یقل فیه احد قبلك فان شئت ان تجتهدرأیك فتقدم وان شئت ان تتأ خرفتاخرومااري التاخرالاخیرالك»

ترجمه :« کله چې دالله په کتاب کې کومه خبره ومومي نوله هغې سره سم پریکړه وکړه اوله هغې پرته دي پاملرنه بلې خواته مه اړوه خوکه چیرې داسې معامله پیښه شي چې دهغې په باب نه دالله په کتاب کې اونه درسول الله (ص) په سنتوکې څه موجودوې اونه له تانه وړاندې په دې باب چاڅه فیصله کړې وي که٭ ته په دې باب اجتهادکول غواړې نواجتهاد وکړه اوکه غواړې چې پریکړه وروسته کړې نووروسته یې کړه خوزه ستاسو لپاره دډیرې انتظارکولو نه غوره خبره ګڼم »

خوزه ګنم » ددي مضمون روایتونه دډیرلږ تغییر اودځینوخبرولـه تشریح سره له حضرت عبدالله ابن مسعود، حضرت عبدالله بن عباس اوحضرت علي رضي الله عنهم څخه هم نقل شوي دي له دې ټولو روایتونو څخه داحقیقت څرګندیږي چې په خیرالقرون کې دهرې معاملې پرومبنۍ سنداواولني مرجع دالله کتاب و که چیرې کوم مفتي یاقاضي ته به کومه معامله وړاندې شوه نوهغې ته دځواب ویلو اویافیصلې کولو لپاره به نې ترهرڅه دمخه دالله کتاب ته رجوع کوله خوکه به هغې کې به نې کومه واضحه خبره ونه موندله نوبیابه نې درسول (ص) په سنتوکې کتله که په هغې کې به هم څه په لاس ورنغلل نوبه آخري درجه کې به نې له اجتهاد څخه کاراخیسته.

د رسول الله (ص) سنت :

درسول الله (ص) سنت دالله له کتاب څخه څه جدا څیزندي نه دهغه خلاف دي اونه دالله دکتاب مرکزیت ته څه تاوان رسوي.

درسول الله (ص) سنت په حقیقت کې دالله (ج) دکتاب تشریح اوتفسیر دي. کومې خبرې چې دقرآن کریم په مجملاتو اواشاراتو کې پټې دي پیغمبر(ص) دهغوخبرو څرګندونه کړې ده نوله همدې امله دالله (ج) له کتاب نه وروسته چې درسول الله سنتونه درجوع کولو کومه لارښوونه شوې ده داوالله (ج) له کتاب نه پرته کوم بل څیزته درجوع کولو امرنه دي بلکې دادالله دکتاب هغه تفسیراو تشریح ته لارښوونه ده چې په ښې توګه له رسول الله (ص) څخه رانقل شوي وي.

ښکاره خبره ده چې دقرآن کریم دتوضیح اوتشریح کولو حق له رسول الله څخه زیات له بل چاسره نشته اونه دبل چاتوضیح اوتشریح درسول الله (ص) دتوضیح اوتشریح په مقابل کې دمنلو وړګڼل کیداي شي. البته ددې خبرې پلټنه ضروري ده چې دهغه نسبت دي رسول الله (ص) ته په ښې توګه شوې دي.

